# د هرات فرهنګي اغیزې پر ایشیا باندې

## او

## دامیر علي شیر نوايي فرهنګي او ادبي کارنامې

(ا) ***هرات او تیموریان*** :

هرات د ایشیا په زړه کښې د خراسان مرکزي ښار ګڼل کېدئ، چې تر اسلام را وروسته همیشه د ایشیا یو مشهور تجارتي مرکز او فرهنګي روزنتون وؤ، ځکه چې د غرب له خوا د خراسان تجارتي لار پردې ښار راتله، او د خراسان د بل اقتصادي او سیاسي مرکز نشاپوره سره نښتي وؤ. د شمال په خوا هم هرات د خراسان له پایتخت مرو او نورو تجارتي ښارو لکه بخارا او سمرقند سره رابطه درلوده، او دجنوب له پلوه د سیستان رخج سره نښتئ وؤ، چې لاري ئې شرقاً د سند د ارتې ناوې سره درۀ بولان پر خوا خلاصي وې.

د هرات دغه اقتصادي او تجارتي موقعیت وؤ، چې عربو باب الهند باله، او هر وخت د سیاست او هنر او پوهنې لپاره هم یو پوخ قرارګاه شمېرل کېدئ.

د طاهريانو او صفاريانو او غزنويانو او غوريانو په وختو کښي هرات دغسې مرکزيت درلود، او کله چې پسله ۶۱۸ هـ د چنګېزيانو تاړاکونه راغلل، نو هرات هم درانه تاوانونه وليدل، او ډېرې ورانۍ پر راغلې.

د چنګېزيانو آخرني پاچا ابو سعيد بهادر په ۷۳۶ ه تر دنيا تېر سو، او په همدغه کال يو بل فاتح هم ددغې کورنۍ څخه وزېږېد، چې تېمور ئې باله، او دغه فاتح له ۷۸۲ څخه تر ۷۹۲ ه پورې ټول خراسان او ايران ونيول، او د هرات د کورتي کورنۍ شاهان يې هم په ۷۹۲ له منځه وايستل، دده فتوحات شرقاً تر ډهلي او غرباً تر استانبوله ورسېدل، او پايتخت ئې چې سمرقند ؤ، د ټولي ايشيا مرکز سو. د چنګېز او تېمور په فتوحاتو کښي افغانستان ته ډېرې ورانۍ ورسېدې مګر کله چې د دوی اولادونه او لمسيان د خراسان په مدنيت او ثقافت کښي وروزل سوه نو دوي بيا ډېر ښه او مدنيت پرورې شاهان وو.

دلته بايد دا خبره ښکاره سي چې کله اقتصادي عوامل په يوه محيط کښي سره سم سي، نو هلته سياست او ثقافت دواړه نشوونما کوي، او انسان هم د هغې اقتصادي دورې تر اغيزو لاندي فرهنګ او هنر روزلای سي.

د تېمور دوره خو له ۷۷۱ ه څخه دده ترمرګه ۸۰۷ پورې په جنګو او اړو دوړ تېره سوه مګر پسله ده چې شاه رُخ دده زوي خراسان ونيو، او په هرات کښي پر تخت کښېنست.

دې شهزاده د خراسان په ثقافت کښي پرورښت ليدلئ ؤ نو ده په هرات کښي د خپل سلطنت اساس د فرهنګ او هنر او علم پرورۍ پر اصولو باندې ټينګ کړ، او دا ښار ئې د ايشيا عروس البلاد وګرځاوه، ده تر نيم قرن لږ څه کم شاهي وکړه، په هرات کښي مجلل عمارتونه او

مدرسې جوړې کړې، دده ملکه ګوهر شاد هم یوه مدنیت پالونکې ښځه وه او د فن تعمیر شهکارونه ددې په امر جوړ سوي دي. او زوي ئې اولوغ بېګ د سیاست او رياضي ماهر وُ،د شاه رُخ د شاهۍ دوره د خراسان د ودانۍ او مدنیت په تاریخ کښې ډېره درنه ده، دده مملکت له سیحونه تر بحیره عربه او له فارسه تر اباسینده پوري اوږد وُ، او چي په ۸۵۰ هـ مړ سو، نو یوولس کاله په خراسان کښې د تېموري شهزاده ګانو خانه جنګي وه، څو چي په ۸۶۱ هـ سلطان ابوسعید بن محمد میرانشاه بن تېمور هرات او زابلستان او ټول خراسان ونیو، دده شاهي یوولس کاله اوږده وه، او چي په ۸۷۳ هـ مړ کړ سو، نو په همدغه کال سلطان حسین میرزا د غیاث الدین منصور زوی د بایقرا لمسي په هرات کښې پاچا سو دغه بایقرا د عمر شیخ زوی او د تېمور لمسی وُ.

د سلطان حسن بایقرا دوره لکه اوږده چي وه دغسي هم یو سمسوره او د آرامۍ او د هنر او عمرانه ډکه دوره وه، دی د روژې په لسمه د جمعې په ورځ (۸۷۳ هـ) د هرات پر تخت کښېنستلی او په ۹۱۱ هـ کال تر اته دیرشو کلو شاهۍ وروسته په هرات کښې وفات سو، چي دده په مرګ نو د هرات سمسور مدنیت زمول سو، د شهزاده ګانو تر منځ اختلاف وُ، او د غربي خوا هم صفوي شاهانو پردې مځکه حملې او ناورینونه راوستل.

## (۲) د خراسان نوي کلتور پالل تون او عناصر یې :

په خراسان کښې تر اسلام را وروسته یو کلتور د زړو او عربي عناصرو په ګډون جوړ سو، چي هنر او صنعت او ادب ئې هم خپل پخواني خراساني خصایص درلودل او هم د عربو او اسلامي فکر او هنر ډېر نوي شیان ورسره ګډ سوي وو.

کله چې په دریم او څلورم قرن کښې د خراسان د ترکي عناصرو ګډون هم له دغه خراساني فرهنګه سره وسو، نو دلته په خراسان کښې د سلجوقیانو او نورو ترکي عناصرو په لاس، د ترکي فرهنګ ځینې برخې هم د خراسان زاړه فرهنګه سره ګډې سوې وې، څو چې د چنګېزیانو په واسطه ځینې مغولي او چیني فرهنګي عناصر هم د خراسان او منځنۍ ایشیا په کلتور کښې ځای ونیوی، او کله چې امیر تېمور او بیا دده اخلاف په سمرقند او هرات او ایران کښې سلطنت ته ورسېدل، نو ددغې ارتې مځکې فرهنګ د ګنګا له څنډو څخه بیا تر دجلې اوحتی استانبوله پورې له دغو ګډو سوو عناصرو څخه مرکب ؤ:

الف : اساسي عنصر یې د خراسان اصلي او موروث ثقافت ؤ، چې تر اسلام دمخه او وروسته په همدغه مځکه کښې روزل سوی وه، او دسامانیانو او صفاریانو او غزنویانو په زمانو کښې ئې دلې پوخوالی او تینګار موندلی ؤ. ددې ثقافت یو اساسي ټکی دری ژبه او د هغې ادبیات وه چې په اوم او اتم قرن کښې پر ټوله ایشیا له استانبوله تر ګنګا پورې خپورتیا موندلې وه، او د عربي ژبې سره ئې پوره سیالي کوله.

ب : دوهم عنصر ئې اسلامي دین او د عربو د ثقافت ځینې مبادي وو، چې د اقتصادي او دیني روابطو په مرسته په خراساني ثقافت ګډ سوی وو، مثلاً موږ ګورو چې شعر اوهنر بدیعي اثرونه خو ټول په دری ژبه دي، مګر علمي لیکنې ګرده په عربي دي. او هغه پوهان چې د طب، ریاضي، فلکیاتو او نورو علومو په لیکنه بوخت دي، اکثر عربي لیکي.

ج : دریم مهم عنصر په دغه ګډوډ ثقافت کښې ترکي اثرونه دي، چې له قدیمي زمانې څخه په خراساني فرهنګ راګډ

سوی، او ددې زاړه ثقافت رنګ ئې موندلی او بيا له دې ځايه په ګرده ايشيا کښي خپاره سوي وو، او ددې خبري ثبوت د ښاغلي ګيب انګليسي محقق په دغه لاندي شرحه سره کيږي چي د "عثماني شعر تاريخ" په دوهم ټوک کښي هسي وايي :

" د هرات مدرسې په خاصه توګه غنايي او غزلي شعر وروزه، او کلام ته ئې هنري ارزښت او صنعتي امتياز ورکی، د فضيلت دوست او ادب پالونکی سلطان حسين بايقرا درخشانه دربار په دغه کار کښي د خپل کمال اوج ته ورسېدئ، او د هرات ادب د جامي او ميرعلي شېر له برکته دوني بشپړ او اغيزه ناک سو، چي دغه دوره د ادب د آسمان ستوري د عثماني ترکی ادب ددوهمي دورې (۱۴۵۰ م – ۱۶۰۰ م ) لارښوونکې بلل کيږي"

د : د چين او هند د صنعت اوحرفت اثرونه هم ډېر خراسان ته رارسېدلي وو، ددغو دواړو مملکتو سره تجارتي تګ راتګ او حتي سفارتي تعلقات هم موجود وو، نو د هرات ميناتور او هنر مکتب په ځان کښي دغه اثرونه قبول کړي وو.

## (۳) د خراساني کلتور هنري خواوي :

د خراسان د تيموريانو د دورې هنر او کلتوري مجموعه په هرات، سمرقند، بخارا او مشهد او نورو لويو ښارو کښي اوس داسي مرکبه اما جامعه او بشپړه وه، چي د هنر شهکارونه ئې منځ ته راوړي دي مثلاً :

۱. د ښکلي خط او خطاطۍ هنر خپل لوړ معراج ته رسېدلی وُ، تردې اندازې چي ځيني هنر پېژندونکی پوهان وايي : دکتاب ترتيب په دغه ډول د دنيا په هيڅ ګوټ کښي چا نه وُ کړي. د دې دورې ښکلي خطونه نسخ اونستعليق دي، چي له کوفي خطه زېږېدلي دي، د پنځم

قرن په اول او د سلجوقیانو په زمانه کښي کوفي خط له خپلـي قـدیمي سادګۍ څخه راووت، او د یوه ښکلي صنعت پـه ډول پـه کتـابو او پـر ودانیو او ډېرو باندي ولیکل سو، وروسته له دې خطه څخـه نسـخ پیـدا سو، چي په اوم قرن کښي له نسخ څخه تعلیق وزېږېـد، اوپـه اتـم قـرن کښي ددغو دواړو له ګډونه نستعلیق پیدا سو دغه خط چي وروسته پـه ټوله ایشیا کښي د یوه هنر پـه ډول خپـور سـو د هـرات د تېموریـانو د دربار مشهور خطاط قبله الکتاب میر علي اختراع کـړي ؤ، چـي ددغـه هنري مکتب نوابغ جعفـر بایسـنقري – مولانـا اظهـر – سـلطان علـي – شهزاده ابراهیم بن شاهرخ بایسنقرا میـرزا او پـه سـوو نـور نـامتو خـط لیکونکي دي. او دوي د نستعلیق خط پـه ګـرده ایشیا کښـي لـه هراتـه خپور کړیدئ.

۲. د کتابو د لیکلو سره دوه نور ښکلي هنرونه هم وروزل سوه :

اول : میناتور چي په ډېر دقت ئې ځني شکلونه، مناظر کښل، او هغه به ئې په ډېر ښکلي ډول انځور کول . او دغـه فـن د هـرات پـه هنـري مدرسه کي ډېر وپالل سو، د شاهرخ پـه زمانـه کښـي خلیـل نقـاش ؤ د بایسنقرا میرزا په مدرسه کښي امیر شاهي سـبزواري او غیـاث الـدین د هرات زبده نقاشان وو. او د هنر پېژندني استادان وایي چي ددې زماني نقاشانو له چیني هنره څخه اقتباس کاوه ، مګر هغه یې پخپل هنر کښي داسي تحلیل کړي دئ، چي د هرات د نقاشۍ یو قوي او مستقل ډول ځني جوړ سوئ ؤ. او وروسته ئې د هند او خراسان او فارس پر نقاشۍ باندي ښکاره اثر کړیدی او د دکتور زکي حسن په قول دغـه عصـر د میناتور دهنر طلایي دوره ګڼله کیږي. کمال الدین بهزاد د مینـاتور کښوونکو پلار په هرات کښي پیدا سو، او د سلطان حسین بایقرا د دربار سیداحمد نقاش شاګرد ؤ، د بهزاد نقاشي او دده سبک او مکتب دنیـایي

شهرت لري، او دهرات د هنري مکتب تر ټولو لوی استاد دئ، شاگردانو او پیروانو ئې د میناتوري ښکلی هنر په جهان خپور کړی و. او بيا قاسم هروي او دده پيروانو لکه آقا مير ک ، سلطان محمد، ميرزا علي، مظفر علي، مير سيد علي په فارس او هند او بخارا کښي دغه سبک وروزه حتی چي په تورکیه کښي هم دې هنري مکتب نفوذ وکړ.

په فارس کښي هم مونږ هغه وخت د هرات د هنر نفوذ ليدلای سوای چي د سلطان محمد نور او شاه محمود نيشاپوري او ميرعلی او رضاعباسي او محمود مذهب او مولانا ياري او مير ک او حسن بغدادي او عبدالله شيرازي او نورو ډيرو هنرمندانو آثار وگورو.

کله چي پر هرات باندي د صفويانو يرغلونه راغلل، نو اکثر هنروران او پوهان چي هلته د تيموريانو هنر پرور شهزاده گانو په دربار کښي سره يو ځای سوی و، بخارا يا هند ته ولاړل، لکه چي زين الدين محمود مذهب او عبدالله مذهب په بخارا کښي ډېر هنري آثار وکښل اوشاگردان ئې وروزل.

د هرات د هنري مدرسې دوهم فن چي په ټوله ايشيا کښي خپور سو، د کتابونو تذهيب او زرنگاري وه، چي مذهبانو به د قرآن شريف او نورو کتابونو حاشيې او عناوين او فصلونه په هندسي اشکالو او گل اوبلگونو او ښاخونو او د انسانانو يا پرندگانو په شکلونو سره طلا کاری او تذهيب کول، او مونږ د هر ځای په هنرمندانو کښي د دغو فنکارانو نومونه گورو : د کتابونو د ليکلو اوتذهيب او نقاشۍ سره سره د وقايه سازۍ فن هم هغوني ترقي وکړه او خورا نفيسي وقايې به ئې په ښکلو رنگونو او نقش ونگار جوړولې او د مستر ډيماند په قول ددغه صنعت نفوذ تر ايتاليا او گردي اروپا پوري هم رسېدلی و. د خطاطۍ ، نقاشۍ ، تذهيب، تجليد بهترينه نمونه اوس د تهران د گلستان په موزه کښي د

جعفر بايسنقر په خط يوه شهنامه ده چې په ۸۲۳ هـ كښلې سوې ده او ۲۲ د هرات د نقاشۍ بهترين شهكارونه لري.

دبرتانوي موزيم مشر پروفيسور د. برت په قول دغه كتاب په خط، تذهيب، كاغذ، نقاشي، صحافت، او تجليد او ټولو خصوصياتو كښې د بشر په تاريخ كښې عاليترين او ګرانبها ترين كتاب دى چې په هرات كښې د هراتي استادانو په لاس جوړ سويدئ.

۳. د ودانولو هنر هم دهرات د تېموريانو په توجه ډېر پر مخ تللئ وُ، معماران او بنايان په عمراني چارو كښې ډېرماهر وه، پخپله د ودانۍ نقشه او تاسيس، د ګمبتو او دالانو او رواقو او څلو جوړول په داسې ډول وو، چې هم ټينګ هم ښكلي او هم د استفادې وړ وو، د ودانيو د باندينۍ منظره هم د تعمير له پلوه اوهم په زرنګاري او كاشي كاري يا د ښتو او ډبرو په نقاشي كښې خورا ښكلي وه، ښه به ايسېده، او دننه د رواقو مناظر ، رنګ آميزي، هندار كاري، ګچ كاري هم داسې وه، چې انسان ئې په ليدلو نه مړېدئ. د مزار شريف ودانې، د هرات د ګوهر شاد كاشي ګمبته، د جامع ځنې ودانۍ د مشهد د امام رضا (رض) په مزار كښې د ګوهرشاد په امر جوړه سوي ودانۍ د هغه عصر عمراني نخښې دي.

## (۴) د امير علي شېر شخصيت او فرهنګ پالنه :

د هرات فرهنګ په لوړ تفصيل اوډېر جامعيت تشكيل وكړ، او د شاهرخ په دوره كښې وپالل سو، څو د بهره بردارۍ وخت ئې د سلطان حسين بايقرا زمانې ته راورسېد او ددغه دربار لوى وزير يا صدر اعظم امير شېر علي نوايي وُ، چې هم عالم وُ، هم د تركي او فارسي شاعر وُ، هم لوى سياست مدار او ضابط اداره چي وُ. د دې دانشمند او

صاحبدل صدر په غوښتنه ډېر کتابونه تالیف یا کښلي سویدي. ډېر هنري آثار پیدا سویدي، ډېري ودانۍ پورته سوې او ډېري مدرسې اوخیریه مؤسسې بناء سویدي.

د امیر علي شېرنوایي حقیقي خلاقي ددہ په ترکي نظم اونثر کښې ښکاري ځکه چې تر ده دمخه چا په دغه اندازه لیکني او هنري ایجادونه نه وه کړي.

د ایشیا په یوه برخه کښې چې ماوراء النهر نومېد، د ترکي ژبې شرقي لهجه یاني چغتایي ترکي رواج وه، مګر ادبي او علمي ژبه دري وه، پوهانو او شاعرانو به اکثره خپل آثار په دری یا عربي لیکل.

امیر علي شېر په ترکي ژبه ډېر شعرونه وویل، نثرونه ئې ولیکل کتابونه ئې تالیف کړل، او دی په حقیقت کښې د خپل عصر د خراساني ممزوج ثقافت ممثل وُ، او پخپله ئې هم ددغه فرهنګ په ایجاد او روزنه کښې غښتلی لاس درلود.

یوه زمانه چې مولانا عبدالرحمن جامي غوندي عالم او شاعر او صاحبدل زېروی یا بهزاد غوندي نقاش او هنرور منځ ته راباسي او یا بایسنقر او اولوغ بېګ غوندي پوهان اوهنر پروره شهزاده ګان روزي، نوصدراعظم به ئې هم دغسي جامع شخصیت وي لکه امیر علي شېر نوایي.

تاسي د نوایي خپلو شخصي او صافو اومحامدو ته مه ګورئ، بلکه دده هغه صفات ووینئ، چې د نورو په پرورښت او د خلکو په خدمت او پالنه کښې ئې لري، د نوایي په تالیفاتو کښې یو خمسة المتحیرین نومېږي، چې پنځه بابه دئ. اودا کتاب ده د حضرت جامي په پېژندنه اوستاینه کښې لیکلی دئ. نو یو صدراعظم چې د یوه عالم اوشاعر دوني قدر کوي، چې پخپله ئې په ستاینه کښې قلم اخلي تاسي قیاس

کولای سي چي د فرهنګ او پوهني سره به څوني علاقمندي ولري؟

په دغه باب کښي مورږ د یوه بل تېموري پاچا بابر له قوله د امیر علي شېر د شخصیت په پېژندنه کښي دغه الفاظ رانقلوو، بابر وایي: لکه امیر علي شېر بل څوک ما دغسي کریم او دانش پرور ندی لیدلی، ده لکه ډېر لیکوال او شاعران چي پر ځان راټول کړي وو، هنرمند نقاشان لکه بهزاد او شاه مظفر او موسیقي دانان لکه قول محمد او شیخ نایي او حسین عودي، ئې هم روزلي وه، او پخپله هم ماهر موسیقي دان او نوازنده اونقاش وُ.

نوایي د خلکو له خدمته څخه هم سترګي نه پټولې، یواز ئې په خراسان کښي ۳۷۰ مسجدونه او مدرسې او د خیر ځایونه جوړ کړي وُ، ډېر اوقاف ئې د خلکو د ګټي لپاره درلودل (۱).

(۱) امیر علی شېر نوایی "فانی"، د کابل چاپ ۱۳۴۶ ل، ص ۶۵ _ ۷۰